
The Bell Foundation

# د انګلیسي تعلیمي سیستم په اړه: لومړني ښوونځي

د هغه ماشومانو د والدینو لپاره لارښود چې انګلیسی د یو اضافي ژبې په توګه کاروي




## په دې لارښود کې څه شی شامل دي؟

تاسي کولای شئ دلته عملي معلومات ترلاسه کړئ ترڅو د خپلو ماشومانو سره د ښوونځی په موندلو کې مرسته وکړئ او د انګلیسي تعلمي سیستم په اړه پوه شئ.

په انګلستان کې ډول ډول ښوونځي شتون لري، په شمول د هغو چې والدین باید فیس ورکړي،( د بیلګې په توګه د فیس ورکړې/ازاد/ خصوصي ښوونځي).

دا لارښود تاسو ته د هغه ښوونځیو په اړه معلومات درکوي د کوم لپاره چې تاسي اړ نه یاست پیسي ورکړئ ( د بیلګې په توګه دولتي ښوونځي). د لاندینیو ښوونځیو په ګډون بېلابیل ښوونځي شتون لري:

- د سیمه ایزو دولتي ادارو (LA) ښوونځي - چې د سیمه ایز حکومت له لوري تمویلیږي
- تعلمي مرکزونه او وړیا ښوونځي چې اکثره وختونه د خیریه مرستو څخه د مرکزي حکومت له لوري تمویلیږي.
- عقیدوي ښوونځي--له ځانګړي دین سره اړه لري

همدارنګه تاسي خپل ماشوم ته په کور کې پوره وخت یا نیم وخت د درس ورکولو اختیار لرئ. دې ته کورنی تعلیم ویل کیږي (یا انتخابي کورنی تعلیم یا کورنی ښوونځی). دلته نور معلومات ترلاسه کړئ: https://www.gov.uk/home-education




## 1. څنګه کولی شم د خپل ماشوم لپاره ښوونځی ومومم؟

له خپلې سیمه ایزې شورا سره اړیکه ټینګه کړئ (چې سیمه ایز چارواکي یا LA هم ورته ویل کیږي) ترڅو خپل ماشوم لپاره ښوونځی ومومئ څکه چې:

- سمیه ایزه شورا باید په سیمه ایزه کچه ښوونځي وموميي که چیری ستاسي د ماشوم عمر د 5 څخه تر 16 کالو وي
- تاسي کولای شئ د ښوونځي د داخلي په اړه نور معلومات دلته ومومئ: https://www.gov.uk/schools-admissions

### د ښوونځي په غوره کولو کی دلته یو شمیر نظرونه شتون لري:

- د خلاصو ماښامونو ښونځیو څخه لیدنه ترسره کړئ
- ددي ښوونځیو له ویبسایټونو څخه لیدنه ترسره کړئ
- د دوی له وروستي زیات کتل شوي راپور څخه لیدنه وکړئhttps://reports.ofsted.gov.uk/
- د ښوونځي مجموعي کار وڅارئ: https://www.compare-school-performance.service.gov.uk/
- د نورو والدینو سره خبري وکړئ چې دوی د دې ښوونځي په اړه څه ډول فکر کوي

### کله چې تاسي و پوهیږئ چې کوم ښوونځی باید غوره کړئ، تاسي باید:

- د لږ شمیر غوره کړو ښوونځو په انتخابولو سره آنلاین فورم ډک کړئ
- د لومړني ښوونځي غوښتنلیک لپاره خپله د اخستنې ساحه شامل کړئ
- له خپلې سیمه ایزې شورا د ښوونځي د داخلي ډلي [CB2] څخه مرستي غوښتنه وکړئ څکه چې د غوښتنلیک لیږلو پروسه ممکن ستونزمنه وي
- له شورا څخه وپوښتئ چې ایا نور خلک، د ټولني ډلي یا ژباړنکي شته څوک چې له تاسي سره مرسته کولی شي

## 2. په کوم عمر کې باید زما ماشوم ښوونځی پیل کړي؟

په انګلستان کې ټول ماشومان باید له پنځمې کلیزې څخه وروسته پوره وخت ښوونځی پیل کړي. که څه هم، ډیری ماشومان چې څلور کلني يې پوره شي په سپټمبر کې استقبالیه ښوونځي پیلوي

خپلو سیمه ایزو چارواکو یا له ښوونځي سره اړیکه ټینګه کړئ چې کله باید ستاسي ماشوم ښوونځي پیل کړي.

## 3. څنګه کولای شم چې د ښوونځي وخت او د رخصت نېټې ومومم؟

په انګلستان کې د ښونځیو وختونه او د رخصت نېټې توپیر لري.

له ښوونځي سره خبري وکړئ ترڅو دغه نېټې ومومئ یا له دې ویبسایټ څخه لیدنه وکړئ: https://www.gov.uk/school-term-holiday-dates


کاپي رایټ ©د بیل تعلمي خیریه شرکت )د بیل بنسټ تر عنوان لاندي کار کوي (اکتوبر 2020

## 4. له ښوونځی څخه څه ډول تمه درلودلی شم؟

د نوي والدینو لپاره ښوونځي کتابچه یا د ښه راغلاست رساله ولولئ او له ویبسایټ څخه لیدنه وکړئ: که چیري اړتیا وي له ښوونځي څخه وغواړئ ترڅو معلومات وژباړي.

### ستاسي د ماشوم لپاره به لاندې شیان موجود وي:

- د پیژندګلوی فعالیتونه ترڅو ستاسي له ماشوم سره مرسته وکړي چې له ښوونځي سره اشنا شي
- د 30 زده کوونکو ټولګی چې تقریبا یو شان عمر لري
- د تدریس منظم مهالویش چې د یو ښوونکي لخوا تدریسیږي
- یو شمیر درسونه (د بیلګي په توګه فزیکي تعلیم (PE) او موسیقي) چې په احتمالي ډول د مسلکي ښوونکی لخوا تدریسیږي
- پوره نصاب ته لاسرسی - لاندې نور معلومات ولولئ
- د ټولګي زده کړې اړونده کورنی دنده
- یو ټول شموله میتود چیري چې ټولو زده کوونکو سره ورته چلند کیږي

### زما ماشوم په ښوونځي کې نور څه ترسره کوي؟

ستاسي ماشوم کولی شي چې له نصاب څخه د باندې په اضافي فعالیتونو، د ښوونځي سفرونو او د لاندینیو په ګډون په نورو مراسمو کې برخه واخلي:



- یو ځای کیدل او د یو ځای عبادت فرصتونه
- له نصاب څخه د باندې اضافي فعالیتونو او کلبونه، د بیلګي په توګه سپورت، موسیقي او ډرامه
- د ښوونځي سفرونه د خوښی/ننداري/ سپورتي مراسمو ځایونو ته
- د ټولګي راټولیدل او ننداروتن ترڅو د ماشومانو کړني وکتل شي
- ټولنیز پروګرامونه او خیریه خیریه د بیلګي په توګه  سپورتي ورځي، اوړی او کریسمیسنندارتونونه ډیسکو او کوچنی ازموینې

### څه ډول پوه شم چې په ښوونځي کې څه پیښیږي؟

ستاسو ښوونځی به له تاسي سره په دومداره توګه په اړیکه کې وي، چې له دې سره تاسي کولای شئ پوه شئ چې په ښوونځي کې ستاسو د ماشوم په ټولګي څه پیښیږي. ښوونځي د اړیکو نیولو لپاره د لاندې طریقو په ګډون له بېلابیلو طریقو څخه کار اخلي:



- د ښوونځي ویبسایټ: مهمي نیټي، معلومات او اعلانونه
- خبرتیاوي: لیکلي پیغامونه، ټولنیزې رسنی، (د بیلګي په توګه ټویټر) او ایپونه
- انلاین سیستمونه: د ښوونځي خواړه او د والدینو ماښامنۍلیدني
- ایمیلونه او لیکونه: ښوونځی، ټولګی او د رخصتی معلومات
- د والدینو ماښامونه اوراپوروونه: مخامخ لیدني او راپوروونه
- لیدني او معلوماتي ماښامونه:د ښوونځی ژوند او مضمونونو په اړه
- مستقیمي خبرې اترې: یو پر یو محاوره د موبایل یا بریښنالیک له لارې. د نورو معلوماتو

لپاره د لوبو میدان کې د نورو والدنیو سره خبري وکړئ

## 5. ښوونځی له ما څخه څه تمه لري؟






**د والد په حیث له تاسي څخه لاندې تمې کیږي:**

- خپل ماشوم هره ورځ او په خپل وخت سره ښوونځی ته لیږئ، مګر دا چې ناروغ وي، یا کومه لیدنه لري او یا مذهبي رخصت وي. دلته نور معلومات کتلی شئ
  د ښوونځي وړیا ترانسپورت ستاسي د سیمه ایزې شورا څخه دلته دی:
  https://www.gov.uk/free-school-transport
- له ښوونځي سره اړیکه ټینګه کړئ او ورته ووایاست چې ستاسي ماشوم ولې غیر حاضر دی. که کولی شئ له وړاندې څخه ښوونځي ته ووایاست.
- خپل ماشوم یواځې د ښوونځي په رخصتیو کې بهر بوځئ. که چیرې تاسي غواړئ چې خپل ماشوم د ښوونځي رسمي وخت کې په رخصت بوځئ، نو تاسي ممکن جریمه شئ. له ښوونځي سره خبرې وکړئ ترڅو نور معلومات ترلاسه کړئ یا له ویبسایټ څخه لیدنه وکړئ:https://www.gov.uk/school-attendance-absence
- ښوونځي ته د خپل ماشوم یا د کورنۍ د اړینو پروګرامونو یا اوضاع په اړه ووایاست. دوی به خپله هڅه وکړي، ترڅو ستاسو ملاتړ وکړي.



- طبي معلومات او د اړیکي نیولو معلومات وړاندې کړئ
- د رضایت ښکاره کولو فورمونه ډکه کړئ، تر څو وښایاست چې ستاسي ماشوم د ښوونځي په سفر تللی شي، انځورونه اخیستلی شي او داسي نور.

## 6. د ښوونځي کارکوونکي څوک



د ښوونځي د معلوماتو کتابچې یا دښوونځي د ویبسایټ څخه لیدنه وکړئ ترڅو وکولی شئ د ښوونځي د پرسونل د غړو نومونه او انځورونه ووینئ: ډیری وختونه دا د ښوونځي د داخلیدو په دروازه کې هم نصب شوي وي.


له ښوونځي څخه وپوښتئ چې کوم کارکوونکی ستاسي له ماشوم سره کار کوي. په دې کې ممکن لاندې کسان شامل وي:



- لوی رهبراند بیلګي په ډول د ښوونځي مدیر، سرمعلم
- د دفت ر پرسونل- د بیلګي په توګه د ښوونځي استقبال کوونکی
- تدریسي پرسونل د بیلګي په توګه د ټولګي ښوونکی یا همکار ښوونکی
- لاریښود پرسونل - د بیلګي په توګه کورني - ښوونځي چاروکی یا د تدریس مسؤل
- مسلکي پرسونل د بیلګي په توګه د EAL ښوونکی (انګلیسي د یوې اضافي ژبې په توګه)، SENDCo (ځانګړي تعلیمي اړتیاوې او د معلولیت هماهنګ کوونکی)، د خوندیتوب لپاره ګمارل شوی مشر ښوونکی (DSL)

## 7. په ښوونځي کې څه تدریسیږي او د څه شي ازموینه اخیستل کیږي؟

په مهربانی سره لاندې جدول څخه لیدنه وکړئ ترڅو موموئ چې ستاسې ماشوم به په کومه فاز، مرحله او دعمر لرونکو په ډله کې ځای ولري - او دوی به کوم ډول ارزیابي/ نیمه ازموینه/ازموینه ولري:



| تدریس شوي مضمونونه | ارزیابي/ نیمه ازمویني/ ازمویني | د عمر ساحه | د عمر لرونکو ډله | مرحله | فاز |
|---|---|---|---|---|---|
| خبرې اترې او ژبه، فزیکي مخکې تګ، شخصي، ټولنیز او عاطفي مخکې تګ، سواد زده کړه، ریاضي، د نړۍ پوهه، ښکاره هنر او طرحه | د ښه راغلاست پای: د EYFS پروفایل بشپړ شو | 5-4 | د ښه راغلاست کال | د لومړیو کلونو بنسټیزه مرحله (EYFS) | |
| انګلیسي، ریاضي، ساینس، ډیزاین او ټکنالوجي (DT)، تاریخ، جغرافیه، هنر او ډیزاین، موسیقي، فزیکي تعلیم (PE)، د لامبو وهلو په ګډون)، محاسبه | د 1 کال پای: د اوازونو ازمویلو کتل<br><br>د 2 کال پای: د 1 مهمي مرحلې د SAT ټېسټونه | 6-5<br><br>7-6 | 1 کال<br><br>2 کال | د 1 مهمه مرحله | لومړنی |
| انګلیسي، ریاضي، ساینس، ډیزین او ټکنالوجي (DT)، تاریخ، جغرافیه، هنر او ډیزاین، موسیقي، فزیکي تعلیم (PE)، د لامبو وهلو په ګډون)، محاسبه، پخوانی او عصري خارجي ژبې | 3-5 کلونه: دوامداره داخلي ارزیابي<br><br>د 6 کال پای: د 2 مهمي مرحلې د SAT ټېسټونه | 8-7<br>9-8<br>10-9<br>11-10 | 3 کال<br>4 کال<br>5 کال<br>6 کال | د 2 مهمه مرحله | |

نور معلومات دلته ترلاسه کړئ https://www.gov.uk/national-curriculum

## 8. زما ماشوم به څه شي ته اړتیا ولري؟



د خپل ماشوم له ښوونځی څخه وپوښتئ چې څه ډول یونیفورم لري او چیرته یې اخیستلی شئ.

- په انګلستان کې ګڼ شمیر ښوونځی له زده کوونکو تمه لري چې یونیفورم واغوندي، مګر یو شمیر نه
- ستاسي د ماشوم ښوونځی به تاسي د اړینو توکو د پیرلو په موخه یو لیست درکړي او درته به ووایي چې چیرته یې ترلاسه کولای شئ: د PE بکس او لامبلو وهلو بکس په اړه هم پوښتنه وکړئ
- که چیري تاسي مالي ستونزو سره مخ یاست، له ښوونځی سره خبري وکړئ، ممکن دوی مرسته وکولی شي



**له خپل ښوونځي څخه د زده کړو د توکو په اړه وپوښتئ، په کوم کې چې ممکن لاندې توکي شامل وي:**

- د کتابونو بکس د لوستلو کتابونو لپاره، کورنی دندې او د ښوونځي څخه لیکونه
- د PE بکس، د غرمنی خوړو کڅوړي، او نورو توکو لپاره بکسه.
- د قرطاسیو لپاره د پنسل بکس، د بیلګي په توګه قلمونه، پنسلونه او داسي نور.
- د حساب ماشین او د ریاضي نور توکي



**له خپل ښوونځي څخه ستاسي د ماشوم د غرمنی خوړو په اړه وپوښتئ، کوم چې لاندې شیان رانغاړي:**

- د ښوونځی خواړه - څیني وختونه ورته د ښوونځی غرمنی یا ماښامنی ویل کیږي
- بسته بندي شوي عرمنی - چې له کور څخه راوړل کیږي
- د کور ماښامنی- د ماښامنی لپاره کور ته تلل

**له ښوونځي څخه د ښوونځی د خوړو، مینو، لګښت، او لګښت په اړه وپوښتئ، څکه چې:**

- څکه چې ښوونځی تاسی سره د خوړو په لګښت کې ځانګړی تخفیف کولی شي، د بیلګي په توګه. حلال خواړه
- د ښه راغلاست میز کې د 1 کال او 2 کال ماشومان وړیا خواړه ترلاسه کوي
- نور ماشومان هم کولی شي وړیا خواړ ترلاسه کړي که چیري کورنی یې لږه اندازه عاید لري. تاسي کولی شئ نورو معلومات دلته ومومئ: https://www.gov.uk/apply-free-school-meals

## 9. د هغه زده کوونکو لپاره چې اړتیا ولري نور کوم ډول ملاتړ موجود دی؟



- ملاتړي ملاتړ: ترڅو د کور یا ښوونځي په اړه هر دول تشویش کې مرسته وکړي
- طرحه شوی ګاردي رهبري: ترڅو په جدي موضوعاتو کې مرسته وکړي
- انګلیسي ژبي ملاتړ: ترڅو د په ټولګي د انګلیسي ژبي زده کړي مرسته ترسره شي
- د زده کړي ملاتړ: که چیري ستاسی ماشوم لري ځانګړي تعلمي اړتیاوي یاناتوانایي
- بهرني شرکتونه: مختصصین ددي لپاره چي د ښوونځي ملاتړ وکړي ترڅو د زده کوونکو ملاتړ وشي

## 10. څنګه کولی شم له خپل ماشوم سره مرسته وکړم ترڅو زده کړه وکړي؟

دلته ومومئ چې څه ډول خپل ماشوم سره مرسته وکړئ ترڅو زده کړه وکړي.


کاپي رایټ ©د بیل تعلمي خیریه شرکت )د بیل بنسټ تر عنوان لاندې کار کوي (اکتوبر 2020